دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرني برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۳۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۳ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لیندی ۸ مه د۱۴۳۳ هـ ق د محرم الحرام ۱۴ مه د۲۰۱۲ م د نوامبر ۲۸ مه

افغانستان در امضاء پیمان امنیتی منافع ملی اش را ترجیح می دهد

PRO ACKU

کشور های غربی از طریق رسانه ها و ادارات تحلیلی خود بر افغانستان فشار وارد کرده و هیجان ایجاد می کنند تا افغانستان با سراسیمگی تقاضا های آنها را قبول کرده و این پیمان را امضا کند - (کرزی)

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور افغانستان می گوید: ایالات متحده از طرق مختلف بالای افغانستان فشار وارد می کند تا این کشور، در پیمان امنیتی که باید بین امریکا و افغانستان امضا می شود، با سراسیمه گی اقدام نماید.
رییس جمهور افغانستان حامد کرزی دیروز در کابل اظهار داشت که بحث ها در مورد امضای پیمان امنیتی با ایالات متحده امریکا با شدت و جدیت ادامه دارد و طرفین هر یک بر تامین منافع خود در این پیمان تاکید دارند.
اما به گفته رییس جمهور کشورهای غربی ازطریق رسانه ها و ادارات تحلیلی خود بر افغانستان فشار وارد کرده و هیجان ایجاد می کنند تا افغانستان با سراسیمه گی تقاضا های آنها را قبول کرده و این پیمان را امضا کند.

بقیه در صفحه ۴

خبرونکي:

په ختیځ کې استخباراتي کړیو وضع خرابه کړې

د ایران، پاکستان او سیمې د استخباراتو د لاس وهنې او زمونږ د امنیتي ځواکونو د کمزورۍ په نتیجه کې د یوه لوی ناورین د رامنځ ته کېدو شک شته

کابل، رسنۍ:
د سیاسي چارو څېړونکي محمد اسحاق اتمر وایي، د ایران او پاکستان له استخباراتي او مذهبي کړیو سربېره د سعودي عربستان ځینې مذهبي کړۍ هم په دې هیواد کې د ستونزو د پیدا کولو هلې ځلې کوي.
د سیاسي چارو څېړونکي محمد اسحاق اتمر وایي، د ایران او پاکستان له استخباراتي او مذهبي کړیو سربېره د سعودي عربستان ځینې مذهبي کړۍ هم په دې هیواد کې د ستونزو د پیدا کولو هلې ځلې کوي.
سیاسي او امنیتي کتونکي د افغانستان په مسایلو کې د سیمې د استخباراتي کړیو لاس وهنې ډېرې زیاتې بولي او وایي، چې دا استخباراتي شبکې په دې هڅه کې دي چې په ځینو ختیځو ولایتونو کې امنیت ګډوډ کړي.
دوی څرګندوي چې د سیمې په ځانګړي توګه د ګاونډیو هېوادونو استخباراتي کړۍ په افغانستان کې مذهبي مراسمو ته هم سیاسي رنګ ورکوي او کوښښ کوي چې ورځخه ډېره ګټه پورته کړي.
د سیاسي چارو څېړونکي محمد اسحاق اتمر د سې شنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل، چې د ایران او پاکستان له استخباراتي

پاتې ۴ مخ

د (ټایمز) د کال د غوره شخصیت د نوماندانو په لیست کې محمد مرسي دویم او ملاله یوسفزۍ دریم مقام لري

د امریکې مشهوره مجله (ټایمز) هر کال د کال غوره شخصیت ټاکي.
د کال غوره شخصیت معمولاً هغه څوک وي چې په خبرونو کې ډېر مطرح شوی وي، کېدای شي ښه وي او یا بد. د غوره شخصیت لپاره د نوماندانو لیست د ټایمز د اډېټر له خوا ټاکل کېږي خو لوستونکي هم کولای شي

پاتې ۴ مخ

پوهنتون های دولتی کابل برای سه ماه نه بلکه برای ۱۰ روز رخصت می باشند

کابل، رسانه ها:
وزارت تحصیلات عالی افغانستان در تازه ترین اطلاعیه خود اعلام کرده است که پوهنتون های دولتی کابل برای سه ماه نه بلکه برای ۱۰ روز رخصت می باشند.
اطلاعیه وزارت تحصیلات عالی می افزاید، به منظور جلوگیری از حوادث ناگوار و تامین ثبات در ساحات پوهنتون ها و لیلیه ها وزارت تحصیلات عالی تصمیم گرفته است که دروس محصلان پوهنتون های کابل، پولي تخنیک، تعلیم و تربیه استاد ربانی و پوهنتون طبی کابل الی ده روز از تاریخ پنجم قوس سال روان تعطیل می باشد.
بناً تعطیل سه ماهه که قبلا به نشر رسیده قابل اعتبار نمی باشد محصلان عزیز مطلع باشند.

ایساف می گوید:

طالبان ۲ انتخاب دارند، یا به روند آشتی ملی روی آورند یا در مبارزه کشته و زخمی شوند

از آغاز سال جاری تاکنون بیش از ۴۰ مورد حمله سربازان افغان به نیروهای خارجی گزارش شده که بیش از ۲۰ کشته برجای گذاشته است

کابل، رسانه ها:
در حالی تصمیم گیری در خصوص ادامه حضور نیروهای ناتو در افغانستان به سال آینده موکول شده است که سخنگوی ایساف از تردید این سازمان برای واگذاری سلاح به نیروهای تحت امر دولت افغانستان پس از ۲۰۱۴ خبر داد.
"گونتر کتس" در یک کنفرانس مطبوعاتی در کابل گفت: قرار است درخصوص آینده

بقیه در صفحه ۴

مذاکرات بین الافغانی

اعزامی

صفحه دوم

د کابل پوهنتون غم لړلې پېښه

عبیدالله (صافی)

دریم مخ

ملي واکمني کله یقیني کیدلې شي ؟!

محمد خلیل

د ملي واکمنۍ خبره کول په خوله آسانه خو په عمل کې لویه قربانۍ ته ضرورت لري، ملي واکمني د قومونو په یووالي، اتفاق او همغمۍ منځته راځي، هغه ولسونه چې پخپلو کې بې اتفاقه او د یو بل د محوه کولو او له صحنې نه د حذفولو ارمانجن وي هغوی څنګه کولې شي خپل ملي واکمني تأمین کړي.
هغه ولسونه د استقلال او خپلواکي ژوند خاوندان کیدلې شي چې هغوی د ملي واکمني او خپلواکي له پاره کارونه کوي له هغو ټولو کړنو څخه په کلکه ډډه کوي چې د ملي واکمني په تاوان وي او دښمن ته دهغوی د استقلال او ملي واکمنی تر پښو لاندې کولو فرصت په لاس ور کوي.
څنګه چې ملي واکمني او غلامي د یو بل ضد او نقیض الفاظ دي همداسې د دواړو تعریف هم جلا جلا ده، هغه ولسونه چې ملي واکمني لري هغوی کله هم دچا غلامي ته زړه نه شي ښه کولې، خو ملي واکمني په مفتو کې په لاس نه راځي، دې لپاره کلک ایمان، پوخ عزم او راسخه عقیده پکار ده، له خاورې، ولس او قانون سره رښتیني مینې ته ضرورت دی، له علم، عرفان، تعلیم او تعلم سره د عشق تر کچې لیوالتیا پکار ده، مسلسل او نه ستړی کېدونکی هلې ځلې غواړي، انصاف، ټولنیز عدالت، ایثار، همدردي او عاطفه پکار ده، په پوځي، سیاسي، اقتصادي، روغتیا، زراعت او د تعلیم او تربیه په ډګر کې پرمختګ ته ضرورت دی چې ملي یووالي، همغږۍ، امن او ثبات ددې ټولو بنسټیزه ډبره ده.
مونږ افغانان د استقلال او ملي واکمنی شعار خو ور کوو مګر په عمل کې ددې پرضد کارونه کوو، ...

پاتې دریم مخ

سپینه ماڼۍ:

اوباما تر اوسه په افغانستان کې د پاتې کېدونکو پوځیانو د شمېر په اړه پرېکړه نه ده کړې

د سپینې ماڼۍ ویاند (جې کارني) پرون په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د وال سټریټ ژورنال د وروستي رپوټ په غبرګون کې وویل، چې ولسمشر بارک اوباما تر اوسه په دې اړه پرېکړه نه ده کړې چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې څومره امریکایي پوځیان پاتې شي. ده وویل، دا هم ممکنه ده چې هېڅ پوځیان پاتې نه شي. کارني وویل، چې د هغه تړون له مخې چې د افغانستان دولت او امریکې تر منځ شوی دی، امریکا کولای شي په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد جګړې لپارهاو همداراز د افغان پوځیانو د روزنې په موخه یو شمېر پوځیان په افغانستان

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

مور خپلې گټې ولې نه شو پاللي؟!

له دې واقعیت نه بالکل انکار نه شي کېدلې چې افغانستان د ټولو افغانانو گډ کور دی او هر افغان حق لري پخپل هېواد کې په آزادانه ډول ژوند وکړي او له ټولو هغو حقوقو څخه گټه اوچته کړي چې قانون ورته ورکړي دي، هېڅوک حق نه لري چې په وړاندې یې خنډ جوړ کړي او یا هم ترېنه سلب کړي.

له بده مرغه په افغانستان کې ډېرې وگړي داسې شته چې د قانون د پیروي پرځای له خپل زر او زور څخه کار اخلي د قانون په چوکاټ کې د هلو ځلو پر ځای ناروا او ناقانوني لارې غوره کوي، چېرته له خپل واک او قدرت څخه ناوړه گټه پورته کوي او چېرته د قومي، مذهبي او ژبني تعصبونو په پارولو سره خپل شوم هدف ته د رسېدو کوښښ کوي، چېرته د نړۍ له لوی ځواکونو سره او چېرته هم له گاونډیانو او د سیمې نورو هېوادو سره د سازش او سودا بازي له لارې اقتدار ته د رسېدو غلطه لاره انتخابوي. څرگنده خبره ده چې دا ټولې لارې چارې سراسر غلطې، تاواني او نیمگړي دي چې هېڅ مثبته نتیجه وربادنې نه مرتب کېږي. تر څو پورې چې افغانان خپلې دغې غلطې رویې، سلوک او مسیر ته بدلون ورنه کړي د قیامت تر ورځې به د امن، سکون، اطمینان، خوشالي، پرمختگ، انصاف، وروري، یووالي، استحکام، استقلال، عزت او وقار خاوندان نه شي. د پردیو مستقیمې او غیر مستقیمې اشغال او پراخې لاسوهنې څخه به کله هم خلاصون ونه مومي. آخر د یو داسې هېواد وگړي به څنگه د خپلواکي او استحکام خاوندان کېږي چې د پردیو په غېږ کې ناسته خپل عزت گڼي او دهغوی پر قومانده او مشوره عمل کوي، دهغوی د پیسو په مقابل کې د خپل ورور پر وژنې لاس پورې کوي، مذهبي، قومي او ژبني تعصبونو ته وده ورکوي او د وسلې په زور اقتدار ته د رسېدو هرې ناروا کړنې ته ملا تړي.

په افغانستان کې امریکا او اروپا هم خپلې گټې پالي او د گاونډیانو په شمول د سیمې نورو هېوادونه هم، او تر څو پورې چې د گټې د ترلاسه کولو وخت او موقع یې له لاسه نه وي ورکړې خپله لوبه کله هم نه پرېږدي خو پوښتنه داده چې دا فرصت او موقع ورته چا برابره کړې او هغه کومې تشې دي چې ترېنه گټه پورته کوي؟ !ددې پوښتنې ځواب بالکل څرگند دی او هغه دا چې دا فرصت او وخت پخپله افغانانو ورته برابر کړی دی، څه خلک د بهرنیانو شتون خپل بریالیتوب گڼي او څه خلک د گاونډیو او سیمې هېوادو پوځي، مالي او سیاسي ملاتړ خپل ارمان ته د رسېدو اصلي لاره بولي چې له سهوې، اشتباه او تېروتنې پرته بل هېڅ لاسته راوړنه نه لري.

دهغوی د خپلو خپلو گټو د جگړو او نورو ډول ډول لاسوهنو مخه هله ډب کېدلې شي چې افغانان هم له هر څه دمخه د خپلو هر اړخیزو گټو د ساتلو او په هېواد کې د نظام د ټینگښت او اقتدار ته د رسېدو لپاره پر یو میکانیزم توافق وکړي، ددې پرځای چې اقتدار ته د رسېدو په خاطر د بل چا خولې ته ځانونه واچوي او دهغوی مهرې جوړ شي د قانون په چوکاټ کې د سالم او جائز رقابت له لارې د اقتدار څوکۍ ته د رسېدو جایزه لاره غوره کړي.

مور افغانان په دې واقعیت باید ځان پوه او قانع کړو چې که هره ډله ټپله د بل چا په ملاتړ د ټوپک د شپیلۍ په زور اقتدار ته هم ورسېږي خو په آرامه زړه نه حکومت کولې شي او نه هم د هېواد د ثبات، استحکام، پرمختگ او د ولس د خیرښېگڼې لپاره کارونه، لکه چې څه دپاسه درې لسیزه ترخه تجربه زمور په وړاندې ده، نو څکه د عقل او منطق غوښتنه داده چې له هر څه دمخه له نورو هېوادونو سره د خبرو اترو پر ځای افغانان پخپلو کې د خبرو پر میز کېني، د اختلاف پرځای یو بل ته د اتفاق او یووالي لاسونه ورکړي ټول په گډه د خپلو گټو د خوندیتوب او تأمین لپاره یوه خوله شي او ټول په یو غږ د خپلې خاورې او ولس خدمت ته ملا وتړي، څکه چې له داسې کولو پرته نه داخلي جگړې ختمېدای شي او نه هم د بهرنیو هېوادو لاسوهنې.

افغانان باید دا واقعیت ومني چې د بهرنیو هېوادو مستقیمې او غیر مستقیمې لاسوهنې دهغوی نه د مرستې د راجذبولو او د افغانانو له خپلمنځي اختلافاتو سره اړیکې لري، چې کله هم افغانان دهغوی غېږه پرېږدي او پخپلو کې د ورورولۍ او اتفاق په ټغر کېني نو په یقیني ډول ویلې شو چې د بهرنیانو د لاسوهنې گراف به په سلو کې نوي پخپله راټیټه او د پاتې لسو سلنو لاسوهنو مخه به افغانان په ډېره آسانۍ سره ونیسي.

ښه به دا وي چې افغانان نور له عارفانه تجاهل نه لاس په سر شي، واقعیتونه ومني او د حقایقو په رڼا کې د خپل راتلونکي په اړه له تعقل نه کار واخلي چې په دې توگه د اوږدې مودې راهیسې له کړاوونو څخه خلاصون ترلاسه او د ښه مستقبل په لور گړندي گامونه اوچت کړي.

مذاکرات بین الافغانی

اعزامی

در آستانه پایان گرفتن انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای خارجی از کشور ما تا سال ۲۰۱۴ م، پروسه مذاکره و مصالحه وارد مرحله حساسی گردیده و تمامی طرف های که در جریان جنگ و بحران در صحنه مطرح بودند، کما فی السابق می خواهند که در روند گفتگو و صلح نیز نقش مؤثری داشته باشند.

بدیهی است که بعضی گروه ها و دول در حوادث جاری افغانستان نقش داشتند، مگر حالا که حل قضیه از راه جنگ به بن بست مواجه گردیده و همگان در تلاش یافتن راه صلح اند، همان گروه ها و دول نیز با آوردن تغییر بنیادی در پالیسی خویش، آهنگ صلح می نوازند و با ارائه طرح ها و تشکیل همایش ها، دم از وفاق ملی و وحدت میزنند و مشغله اساسی شان زمزمهٔ گفتگو بین الافغانی، ریفورم سیاسی، اجندای ملی و ایجاد پایگاه صلح پایدار در کشور گردیده است.

"صلح" واژهٔ زیبا، دوست داشتنی و مأنوس است، زیرا این واژه برخاسته از متن قرآن و تأمین آن در میان مسلمانان، موجب رضای پروردگار است. هر کی درین راه مساعی بخرج بدهد و لو از هر آدرسی که باشد، بی پاداش نمی ماند و ثواب عمل خود را پوره دریافت می کند. تا زمانیکه طرف های جنگ توان رزمیدن داشتند و توشهٔ جنگ در چنته؛ از مقابله با رقیب دریغ نکردند، حالا که انگیزه و توان جنگ پایان یافته و مصارف سرسام آور جنگ، اذهان و اراده ها را از ادامهٔ آن باز داشته است، همه شعار صلح سر می دهند و سر لوحهٔ هر آجندای حاکی از صلح و وحدت ملی می باشد.

یان کوبیش نماینده ویژه سازمان ملل متحد در کابل چندی قبل گفت که می خواهد گفتگوی را میان همه گروههای سیاسی افغانستان به شمول مخالفان مسلح دولت راه اندازی کند. قرار است مرحلهٔ نخست این گفتگوها تا یک ماه دیگر آغاز شود. نامبرده در گفتگو با خبر گزاری (DPI) آلمان اخیراً گفته است که تصمیم دارد با راه اندازی این برنامه همه طرف های سیاسی درگیر در قضایای افغانستان را وارد "گفتگوی بین الافغانی" کند.

منظور کوبیش از همه طرف ها، گروه طالبان و سایر گروه های مسلح مخالف است، او اظهار داشت تا اکنون ما نشانه های خوبی از حمایت و علاقمندی همه طرف ها را ازین گفتگو بدست آورده ایم. نامبرده به این باور است که سازمان ملل متحد، پس از خروج نیروهای خارجی از افغانستان، نقش مهمی در تأمین صلح خواهد داشت. او گفته است در ۱۱ سال گذشته و تا هنوز هم بخش عمدهٔ حضور جامعهٔ بین المللی در افغانستان حضور نظامی بوده است، به گفته او نقش ملل متحد در افغانستان بعد از سال (۲۰۱۴) شامل ماموریت ملکی در بخش های توسعه اقتصادی، اصلاح اجتماعی و حمایت از پروسه های سیاسی خواهد بود.

طی یکماه اخیر با وجود وقوع چند مورد حوادث خونین و دردناک در فاریاب و قندهار و ... هم طالبان و هم جانب دولت افغانستان، بار دیگر بر مصالحه و آشتی تاکید نمودند و به همدیگر پیشنهاد کردند که بیایند بجای راه جنگ، راه صلح را انتخاب نمایند.

صلحی را که طرف های درگیر پیشنهاد می کند، در آن منافع و شرایط خود را جستجو می کنند و انگیزه ها و نیات طرف مقابل را کمتر درک می کنند. کشورهای عضو سازمان ناتو، کشورهای اسلامی و کشورهای منطقه و بالاخره همسایه ها نیز نوای صلح سر می دهند، ولی آنچه که موجب می گردد این نواها تحقق یابد، ساختن یک میکانیزم جامع، معقول و قابل قبول برای همه طرف ها است میکانیزم جامع و قابل قبول برای همه، ایجاب گذشت و تنازل طرف ها را می کند و تحقق این مامول ممکن نیست جز آنکه یک جمع بیطرف، مخلص و ذی نفوذ دست بکار شود، طرح ها، نظریات و پیشنهادات همه را بشنود و از لابلای تمامی آنها موادی را تائید کند و مواردی را رد نماید. آنچه که رد گردیده، با توجه به آن طرف و یا اطراف را وادار نماید که روی خواست های خویش با فشار ننموده و بر سبیل تنازل، آمادگی خویش را برای تحقق پروسه صلح ابراز نماید.

برای راه اندازی و تحقق پروسهٔ صلح از سازمان ملل متحد گرفته تا کشورهای اسلامی، کشورهای همسایه، کشورهای منطقه و سازمان های منطقوی همه تلاش دارند که به مثابهٔ محور گفتگوها، گرداندگی پروسه را بعهده بگیرند. هکذا در داخل کشور نیز بعضی گروهها و حلقات، پس از آنکه دریافتند، با خروج نیروهای خارجی بازار جنگ سرد گردید و همه توجهات بسوی صلح متمرکز گردیده می خواهند که ازین کاروان عقب نمانده و به صف مصلحین بپیوندند. اگر به این پیام آوران صلح اعم از خارجی و داخلی فرصت داده شود که هر کدام جدا جدا این پروسه را با توجه به محوریت منافع خود تعقیب نمایند، داعیه صلح بجای نرسیده و در نهایت به کشمکش و جدال منتهی می شود. بهتر اینست که همه فعالیت های اصلاحی اعم از داخلی و خارجی از محورسازی های پراگنده احتراز نمایند و با تشکیل یک محور که آنهم جز تمثیل اراده و منافع مردم افغانستان چیز دیگری در آن منظور نباشد، گرد هم بیایند و پروسه صلح را به سوی کامیابی رهنمایی نمایند.

پس به تنهایی هیچ سازمان، گروه، کشور و حلقه ای توانایی پیشبرد داعیه صلح افغانستان را ندارد، زیرا اگر عربستان سعودی جلودار این پروسه شود، ایران مخالفت می کند، اگر پاکستان مبتکر این جریان شود، هند مخالفت می کند، اگر ترکیه و یا کشورهای آسیای مرکزی محور این پروسه شوند، ایران و پاکستان همکاری نمی کنند و اگر قطر علم بردار این پروسه شود، سایر دول عربی و اسلامی مخالفت می کنند. محور پروسه صلح باید کشوری باشد که بیشترین بار اضرار جنگ را متحمل می شود، در جنگ جاری افغانستان، از هر دو طرف نبرد فرزندان افغان تلف می شوند و خانه های افغان ها ویران می شوند. اسلحه و تجهیزات افغانستان نابود می شوند و اقتصاد افغانستان ورشکسته می شود، وقتی که اضرار جنگ را افغان ها متحمل می شوند، بناءً معقول نخواهد بود که در پایان جنگ، منافع صلح را دیگران در میان خود حاتم پخشی کنند و افغان ها کما آنکه پس از شکست دادن قشون سرخ شوروی سابق و اسقاط رژیم دست نشانده ماسکو در کابل، خلع افتخار شده و بجان همدیگر انداخته شدند، بار دیگر از مزایای صلح بی بهره بمانند. محوریت افغانستان در راه اندازی پروسه صلح حقیقتی است که نباید جامعهٔ بین المللی، سازمان های منطقوی، کشورهای منطقه و همسایه ها از آن چشم پوشی کنند، در غیر آن هر صلحی منهای محوریت منافع مردم افغانستان به ناکامی مواجه شده، مقدمهٔ برای اشتعال جنگ دیگر خواهد بود.

د کابل پوهنتون غم لړلې پېښه

عبیدالله "صافی"

د محرم الحرام په لسمه د شیعه او سني محصلینو ترمنځ جنګ جګړه رامنځته شوه چې د درې تنو محصلینو د وژل کېدو او لسګونو نورو د ټپي کېدو باعث شو، د ورځپاڼو په استناد پېښه له هغه ځخه راولاړه شوه چې شیعه محصلینو غوښتل د کابل پوهنتون د لیلیې په جومات کې د عزاداري مراسم ترسره کړي، خو سني محصلینو یې مخه ونیوله. که څه هم د امام حسین رضی الله عنه پر مظلومانو شهادت ټول مسلمانان د خپګان اوښکې تویوي او دا د مسلمانانو په تاریخ کې یوه ناوړه پېښه بولي خو شیعه ګان چې د امام حسین رضی الله عنه د شهادت ورځ هر کال په کومو خاصو مراسمو سره نمانځي، سنیان ورته د بدعت په سترګه ګوري ځکه چې د هغه رضی الله عنه د شهادت لمانځل نه په قرآن کریم کې ثابت دی او نه په نبوي حدیث کې. د امام حسین رضی الله عنه نیکه او د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په څرګندو ټکو کې فرمایلي دي چې له دریو ورځو نه زیات دچا په مړینه غم او عزاداري کول حرام او ناروا کار دی. څرګنده خبره ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیرو کار او امتي کله هم دهغه له لارښوونې ځخه سرغړونه نشي کولې ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو نه سرغړونه له الله تعالی نه سرغړونه ده، دا چې شیعه ګان په افغانستان کې هر کال د امام حسین شهادت په غټو مصارفو لمانځي د ښار په سړکونو او کوڅو کې په بیرغونو ښکلې کړی شوي موټرونه او موټر سایکلې ګرځوي دا ددې نمایندګي کوي چې هغوی اصلاً عزاداري نه بلکې د امام حسین د شهادت جشن کوي، خو خیر هر څه چې کوي هغوی پوه شه او ګناه یې.

د اسلام ددې طلایي اصول له مخې چې هر څوک پخپل پخپل دائره کې مذهبي مراسم ادا کولي شي د افغانستان سنیانو کله هم د شیعه ګانو په وړاندې خنډونه نه دي اچولي او دا کار د اوږدې مودې راهیسې په آرامه فضا کې راروان و، خو د یوې لسیزې را پدېخوا شیعه ګان ددې پر ځای چې پخپل چوکاټ او دائره کې د عزاداري مراسم ادا کړي پښې یې له دائرې نه باهر کړې دي، یو خو د ښار په هر یو چوک او هره سیمه کې دروازې او بیرغونه ودروي بل دا چې کوښښ کوي چې د ښار ټوله نقشې ته د عزاداري رنګ ورکړي چې نورو ته د ذهني کوفت او آزار باعث ګرځي، لکه ځنګه چې شیعه ګان د خپل مذهب په رڼا کې لمونځونه پخپلو جوماتونو کې ترسره کوي او په ډېرو عبادتونو کې له سنیانو سره مختلف دي همداسې د امام حسین رضی الله عنه د عزاداري په لړ کې هم دواړه جلا جلا عقیده لري نو ځکه شیعه ګان دا قانوني حق نه لري چې د عزاداري دغه مراسم د سنیانو تر مسجدونو پورې وغځوي، ځنګه چې سنیان شیعه ګان پخپلو جوماتونو کې له عزاداري نه، نه منع کوي همداسې د شیعه ګانو هم اخلاقي فرض دی چې د سنیانو جوماتونه د خپلو داسې مراسمو لپاره استعمال نه کړي چې د سنیانو په نزد بدعت او ګناه ده، په یو هېواد کې د ګڼو مذهبونو، مسلکونو او ادیانو پیروان کولې شي چې همیشه لپاره د چوکاټ په دننه خپل خپل دیني مراسم ترسره کړي، خو که الله مکره پر یو بل د غلبې د ترلاسه کولو شکل اختیار کړي او له خپلې دائرې نه پښې بیرون کړي دا نو بیا داسې فساد زیږوي لکه چې د پوهنتون په جومات کې د عزاداري د مراسمو د ادا کولو په صورت کې ولیدل شو چې ګټه یې د هېواد او اسلام دښمنانو او تاوان یې ټولو افغانانو ته رسېږي.

د شیعه مسلک علماء مسؤول دي چې خپلو پیروانو ته له چوکاټ نه د باهر کېدو اجازه ورنه کړي او داسې ناوړه فضاء دې نه رامنځته کوي چې د سني او شیعه افغانان پخپلو کې لاس او ګریوان شي او دښمنان خپل شوم اهداف ترلاسه کړي، هېواد به یې هم له لاسه وتلی وي او دین به یې هم، نو ځکه ددې خبرې ضرورت دی چې پخپلو کې د مذهبي رواداري ثبوت ورکړي او پر یو بل د غلبې د حاصلولو او په زوره د خپل فکر دتحمیلولو پرځای د یو بل د حقوقو د منلو زغم په ځان کې پیدا کړي.

ملي واکمني کله یقیني کیدلې شي ؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... بالکل داسې لکه چې یو سړی روغ بدن او روغ عقل خو غواړي مګر دهغه څه له خوړلو او ځکلو ځخه ډډه نه کوي چې بدن او عقل ته تاوان رسوي، نه د زهرو له خوړلو ځخه ډډه کوي او نه هم د پوډرو او شرابو له ځښلو ځخه.

چېرته چې ولسونه پخپلو کې په جګړه اخته وي او د یو بل د وژلو لپاره پردیو ته لاسونه غځولي وي دا د ملي واکمنی لپاره د وژونکی زهرو مثال لري، چېرته چې د اقتدار بې حسه او ناخبره واکداران ایله د بیت المال په لوټلو مصروف وي، چېرته چې د عدل او انصاف جنازه وتلې وي، چېرته چې د زورواکانو، بدمعاشانو، قاتلانو، ظلم سالارانو او زور سالارانو حکومت وي، چېرته چې ظالم، فاسق، فاجر او بداخلاق د ولس حاکمان او مظلوم ولس د محکومیت ژوند تیروي، هلته ملي واکمني ځنګه تأمین کیدلې شي؟ ظلم په هر حالت کې ظلم دی، که خپل هېوادوال یې ورباندې کوي او که پردي، درد یې یو برابر دی، البته له خپل نه ګیله انسان نور هم خوروي. په خوله خو ویل کېږي چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او هر څوک په دې هېواد کې په عزت او آبرو سره د ژوند تېرولو حق لري خو د عمل په ډګر افغانستان د ګوتو په شمار د څو زورواکو ډلو په منګولو کې راګیر دی، دوی باداران او نور ولس دهغوی غلامان دي، لوی لوی ماڼی، کورونه، پلازې، زمکې، ښارې، دښتې، تجارتونه، وزارتونه، عدالتونه، ولایتونه، ولسوالی او ریاستونه دهغوی په قبضه کې دي، د غریب، ناچار، نادار، بې وسه او بې واسطې چیغې او فریادونه هېڅوک نه اوري، په کور کلي کې هم ډېول کېږي او په حکومت کې هم له ستغو سپورو پرته نور څه نه اوري، والیانو او ښاروالانو چې په ګډه د رشوت په مقابل کې په غیر مستحقو خلکو د سرکاري زمکو د خرڅولو کومه ناروا لوبه شروع کړې مثال یې د افغانستان په تاریخ کې نه لیدل کېږي، هر والي او ولسوال تش لاس راځي او ډکه لمنه بېرته ځي خو تر اوسه پورې له هېڅ والي، ولسوال، وزیر او رئیس سره احتساب نه دی شوې چې دومره بې دریغه پیسې یې له کوم ځایه پیدا کړې دي؟ ! عام ولسي وګړي ښکاره وایي چې د افغانستان دفاع دې هغه څوک وکړي چې پنځه واړه ګوتې یې په غوړو کې دي، ټول بیت المال یې لوټ کړې، ځانو ته یې پلازې او بلند منزلونه جوړ کړي، په ملیاردو ډالر یې د دوبی او د نړی نورو هېوادو په بانکونو کې ذخیره کړې دي، آخر پر موږ کوم سنډا پښه ایښې ده چې دهغوی د ګناهونو لپاره خپلې وینې توی کړو؟

اصلاً ولس د ملي حاکمیت او استقلال تأمینوونکي دی خو چې ولس ته د عزت او احترام په سترګو ونه کتل کېږي، نو د ولس له ملاتړ نه محروم دولت ځنګه کولې شي د ملي واکمنی نوم په خوله واخلي؟ !

ملي واکمني د ولس د ملاتړ له لارې یقیني کیدلې شي نه په تشو خبرو، که حکومت واقعاً د ملي واکمنی سره مینه لري نو بیا ضروري ده چې د ولس د ملاتړ په ترلاسه کولو سره فساد ختم او عدالت تأمین کړي.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامهٔ گذشته)

قرآن شریف از جوانان بنام اصحاب کهف یار میکند، که این داستان نمایانګر رویکرد جوانان در یک جامعه استبدادی را نشان میدهد که چطور آنها با درک از وضع بی عدالتی در جامعه که انسانها فطرتاً از ظلم و بیعدالتی رنج میبرند، بدفاع برخاستند، بخاطر دفاع از حقوق انسانهای مظلوم و در زیر بار ستم در برابر شاهان مستبد و خودکامه به پاه می خیزند، مقاومت می کنند. درباریان فاسد را متوجه اعمال غیر انسانی شان می سازند، شعار ضد بند گی و غلامی را سر میدهند، ولی شاهان فاقد رسالت و اندیشه که غرق در لذایذ دنیوی می شوند. از اطاعت خدا سرپیچی میکنند، کرامت انسانی را فراموش میکنند، به دنیای حیوانیت قدم میګذراند و سبعانه به ریختن خون هم نوعان خود تصمیم میګیرند، از آنهم فراتر میروند، دعوی الوهیت میکنند، در همچو شرایط نابسامان که جامعه به اختناق و بیعدالتی کشانده می شود، دعوتګران حق بخاطر دفاع از عقیده و دین شان به زندانها کشانیده می شوند و به دارها حلق آویز می شوند. در شکنجه ګاه های مخفی به غل و زنجیرها بسته می شوند، در واقع جوانان آګاه و دادمنش اند که در برابر طاغوتیان زمان مقاومت میکنند که نمونهٔ آن را در جوانان (اصحاب کهف) می بینیم که چطور از شر ظلم نظام دار فاسد، خودخواه و جاه طلب مجبور به ترک جامعه می شوند و به کوه های پناه میبرند و از خداوند استعانت میطلبند، خداوند هم به فریاد کسان میرسد که از حریم حق و عدالت، عقیده، ایمان و ناموس شان دفاع میکنند، و آنها آیات اعجاب آمیز خطاب میکند (أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا) بلی: جوانان آیه های اعجاب آمیز که معجزه آسا با قدرت خداداد که دارند میتوانند حیات نابسامان جامعه را که فاقد رسالت انسانی شده اند و محکوم به غریز، حیوانیت ګردیده اند، راه کمال انسانیت را فراموش نموده اند تغییر ناګهانی بدهند و جامعه سالم و دور از ستم را به جهان انسانیت عرضه نمایند و از حقوق انسانهای مظلوم دفاع نمایند، ما این جامعه را جامعه مدنی ګفته می توانیم که جوانان منحیث نیروی اخلاق و پیشبرو در این جامعه عمل نمایند، باعث تحولات اساسی در حیات اجتماعی و سیاسی آن شوند، که با آفریدن تغییرات و تحولات در حیات سیاسی و مدنی جامعه ها، بنیادهای فساد و دین زدایی را تهدید و تخریب نمایند.

کنت یکی از جامعه شناسان مشهور فرانسوی که روزګار آن افول تفکر کلیسای بوده که در غرب به ناحق بنام تفکر دینی یاد ګردیده است. کنت میګفت: که روزګار تفکر دینی تمام شده است و جامعه انسانی را مانند افراد سه مرحله میدانست، وضع خداشناسی یا افسانه یی (اساطیری) وضع مابعد طبیعی یا تجریدی (مجرد) وضع علمی یا (اثباتی) که این تقسیم بندی ها فقط بخاطر این بود که اندیشه های دین ګرایی را با ابراز موهومات و مفاهیم که در اصل ارزش اثباتی ندارند اغوأ نمایند. در حالیکه دانشمندان و جامعه شناسان مسلمان اساس شناخت از جامعه و تاریخ را در وحدانیت ذات الهی مطالعه نمودند، جهان را در برابر آخرت به عنوان محل آزمایش و امتحان انسان در برابر خدا و جانب که خدا بدوش انسان مکلف ګذاشته است همانا معرفت و عبادت است. بنیاد همه چیز توحید است، انسان با پیمودن مراحل چند ګانه بدون شک بطرف کمال انسانی که نهایت درجه انسان کامل را میرسد. از نګاه فلسفه دین که بحث ما بعد طبیعی یکی از مباحث مهم در مکتب توحید میباشد و اساس دانش خداشناسی را تشکیل میدهد. در طول تاریخ انسانهای ګمراه و فاقد رسالت دینی را وارخطا و سراسیمه ساخته است، بخاطر عداوت که با جامعه دینی و اخلاقی دارند متوسل به سفسط ها می شوند که اصلاً مستندات تاریخی و علمی ندارد، وقتیکه جوامع اروپایی بدست اربابان کلیسا، شوالیه ها و امپراطوران اداره میشد و علم از محیط کلیسای رخت سفر بسته بود و اروپا در آتش بیداد کلیسا میسوخت و شب های ظلمانی که بنام عصر تاریک اروپا ګفته می شود در سراسر کشورهای اروپایی سایه افګنده بود، کنت مجبور بود که از شر ظلم کلیسا وضع خداشناسی را افسانه یی و اساطیری تحلیل نماید و در اذهان نسل جوان اروپا فلسفه بی خدایی را که نشانهٔ از وضع علمی و یا بقول کنت اثباتی بود داخل نماید. تاثیرات تحلیل های ناګوار فیلسوفان غربی و طبقه بندی غیر علمی آنها بود که به مرور زمان جوانان اروپایی به کاباره ها و نایت کلپ ها رو آوردند و به پوزیتویسم (اثباتیت) پناهنده شدند و با پیروی از اپیقور یونانی و فروید المانی فقط هدف خلقت انسانرا در لذایذ و غریزه ها دانستند، انسانرا فقط حیوان لذت ګرا و محکوم به غریزه تعریف نمودند در حالیکه جامعه شناسان مسلمان از نظر عقاید، تفکر دینی و جامعه شناسی قرآنی که منشاء توحید دارد. توحید را در پنج مورد خلاصه نمودند که نظریات اعتقاد به ذات الهی را هر چه بیشتر مستحکم میسازد و از نظر علمای خداشناسی که موضوع تفکر (اصالت وجود) از مفاهیم مهم در فلسفه است چنین طبقه بندی ګردیده است:

۱- توحید در ذات (واجب الوجود)

۲- توحید در خالقیت (ممکن الوجود)

۳- توحید در تدبیر: جهان یک رب و یک مدبر دارد.

۴- توحید در حاکمیت: حکومت بصورت یک حق ثابت از آن خداست تنها او حاکم بر افراد جامعه میباشد.

۵- توحید در طاعت، مطاع بالذات، کسیکه پیروی از اوامر خدا میکند. خداوند بزرګ میباشد و اطاعت اش واجب است.

جوانان مسلمان با بینش علمی و جهان بینی توحیدی که اساس مبارزه شانرا بر ضد بی خدایی، فلسفه اساطیری و افسانوی که متکی به جبر طبیعی و قوانین فزیکی و تجربی استوار است تشکیل میدهد. باید بدانند مطاع بالذات خداوند است و حکومت بصورت یک حق از آن خداست. شریک و مانند ندارد، اوست که جهان را آفرید و انسان را از خاک خلق کرد، اساس تکوین را خلق و امر قرار داد و بدانند که جهان هستی یک رب و یک مدبر دارد. همه جا اوست و همه از اوست، اینجاست که جوان ما در جامعه اسلامی با فرهنګ عالی تربیت می یابد و دانش الهی را کسب مینماید، مدنیت را میآفریند و جامعه مدنی را که مبانی آن بر قواعد اسلامی استوار باشد ایجاد مینماید.

اینجاست که حق جای باطل و عدالت جای ظلم را میګیرد، جامعه بطرف کمال میرود، جمال میآفریند، خیر حاکم بر شر میشود، رذایل به فضایل مبدل میګردد. و با جرئت ګفته میتوانیم که جامعه اسلامی، جامعه است که در آن علم، اخلاق و دین حکومت میکند . و ما میتوانیم جوانی را به جامعه تقدیم نمائیم که ملبس به تقوی، دیانت شجاعت، اخلاق و فضیلت باشد.

ادامه دارد

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

ريچارډ شيريف: په افغانستان کې مقاومت وکړئ موږ ګټونکې يوو

نيويارک ټايمز ورځپاڼې په خپلې تازه ګڼې کې د افغانستان څخه د ځواکونو د وتلو په اړه يوه ليکنه کې د لوړو پوړو امريکايي چارواکو له قوله ويلي دي، امريکا او متحدينو پوځي طراحان د هغو بهرنيو سرتيرو لپاره يو پراخ پلان جوړوي، چې ټاکل شوې ده د ۲۰۱۴ م کال وروسته په افغانستان کې پاتې شي.
دا سرتيري به افغان لورې ته د بشپړ امنيتي مسوليتونو تر انتقال وروسته په افغانستان کې د القاعده شبکې د فعاليتونو پر ضد عمليات مخکې بيايي.
يو پوځي چارواکې ويلي دي، د هغه پلان پر اساس چې طرح کيږي د تروريزم ضد هغه شمېر بهرني سرتيري، چې تر ۲۰۱۴ م کال وروسته به په افغانستان کې پاتې کيږي ښايي شمير يې تر زرو تنو هم کم و اوسي.
له دې سره په يو وخت به د ناټو يو شمېر سرتيري په افغانستان کې په لويو پوځي اډو کې افغان ځواکونو ته د سلا مشورو ور کولو فعاليتونه هم مخکې وړي. خو د جګړې په ډګر کې به يې ونډه کمه وي.
نيويارک ټايمز وايي، له ۲۰۱۴ م کال وروسته په افغانستان کې د پاتې کيدونکيو ناټو سرتيرو د شمير په اړه وروستی تصميم تر اوسه د امريکا او متحدينو له خوا يې نه دی نيول شوی، خو ويل کيږي، يو انتخاب دا دی چې د لس زرو په شا اوخوا کې امريکايي سرتيري او څو زره دنورو هيوادونو سرتيري په افغانستان کې پاتې شي.
ټايمز بريتانوي ورځپاڼې هم په خپله وروستۍ ګڼه کې په اروپا کې د ناټو د ځواکونو د ګډې قومندانۍ د مرستيال

جنرال ريچارد شيريف له خوا ليکل شوې مقاله خپره کړې، چې سرليک يې دی (په افغانستان کې مقاومت وکړئ موږ ګټونکې يوو).
ليکوال وايي، لارډ اشډان سمه نه ده ويلي، چې موږ د افغانستان په جګړه کې ماتې خوړلې ده، موږ بايد خپله دنده تر پايه سر ته ورسوو.
د ليکوال په وينا کله چې لارډ اشډون وايي، چې لويديځ په افغانستان کې ماتې خوړلې ده، جهان يې اوري ځکه لارډ اشډون د نړيوال سياست يو معتبر کارپوه دی. خو د ليکنې د ليکوال په وينا دا خپله د يو داسې چا په توګه چې خپله په جګړه کې دخيل دی په دې اړه کم بدبينانه نظر لري.
جنرال ريچارد شيريف وايي، په افغانستان کې زموږ ستراتيژي روښانه او ساده ده، او هغه دا ده چې د افغان امنيتي ځواکونو روزنه او پالنه وشي څو تر ۲۰۱۴ م کال وروسته په خپل هيواد کې د امن ټينګولو ته چمتو شي. د دې جنرال په وينا موږ بايد د افغان ځواکونو زياتيدونکی توان له پامه ونه غورځوو. د نوموړې په وينا ډير کارونه پاتې دي چې بايد افغان امنيتي ځواکونو ته د بشپړو مسوليتونو له سپارنې دمخه بايد ترسره شي، په ځانګړې توګه د هوايي ځواک، توپخانې، لوژيستيک او طبي اسانتياوو په برخه کې.
د ليکنې ليکوال وايي، موږ دا مهال پنځه ويشت مياشتې وخت لرو او که چيرې تاسو له پنځه ويشت مياشتو وروسته د افغان امنيتي ځواکونو په وړتياوو کې شک لرئ نو پنځه ويشت مياشتې پخوا ته وګورئ او وارزوئ چې په دې دومره موده کې افغان امنيتي ځواکونو څومره اوږده لاره وهلې ده.

افغانستان در امضاء پيمان ...

اما به گفته او، حکومت افغانستان به اين فشار ها و نيرنگ ها تسليم نخواهد شد.
رييس جمهور کرزی همچنان افزود، اين تبليغات است و افغانستان در بين اين نظريات ضد و نقيض خودش بايد حقايق و منافع خود را تشخيص بدهد و طبق آن عمل کند تا زمينه رفاه و آرامی برای مردم افغانستان فراهم شود.
رييس جمهور کرزی اين سخنان را در رابطه با پيمان امنيتی ابراز می کرد که افغانستان بايد با امريکا به زودی امضا نمايد.
يکی از مشکلات پيمان امنيتی اينست که ايالات متحده پافشاری دارد که در اين پيمان برای عساکر امريکايی که بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی می مانند مصوونيت قانونی تامين شود. حکومت افغانستان تا حال به اين خواست راضی نشده است.
اما رييس جمهور کرزی در سخنان امروز خود ابراز داشت که اگر ايالات متحده در ساحه پيشرفت و ترقی اقتصادی و نظامی افغانستان تعهدات خود را بجا آورد، حکومت افغانستان به آن پابند نخواهد بود که امريکا در منطقه چه می کند.
طوری که قبلاً گفتيم يکی از مسايل مورد بحث در پيمان امنيتی حضور عساکر امريکايی در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ می باشد. اکنون بعضی از مقامات امريکايی می گويند که تعداد عساکر امريکا در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ بين ۶ تا ۱۵ هزار خواهد بود و بيشتر بر رقم ده هزار تمرکز می شود.
اما قصر سفيد می گويد که در اين مورد تا حال تصميم گرفته نشده است.
علاوه بر آن، ديروز وزير دفاع امريکا ليون پنيتا در اين مورد با قوماندان عمومی قوای ناتو و امريکا در افغانستان جنرال جان الن تماس ويديويی خواهد داشت.
به گفته مقامات نظامی امريکا، تعداد عساکر امريکايی که در افغانستان خواهند ماند بعد از مشوره با قوماندانان امريکايی در افغانستان تعين خواهد شد.

په ختيځ کې استخباراتي کړيو ...

او مذهبي کړيو سربيره د سعودي عربستان خيني مذهبي کړئ هم په دې هيواد کې د ستونزو د پيدا کولو هلې ځلې کوي:
"ايران په دې برخه کې يوه لويه اجنډا لري او غواړي چې په افغانستان کې له مذهبي مسايلو څخه ګټه واخلي.
په پاکستان کې هم دېته ورته افراطي ډلې شته او همدا ډول اهداف لري.
په حقيقت کې دا د سعودي عربستان د وهابيت،دايران د شيعه ايزم اوداسې نورو زور آزمايل دي او کوښښ کوي چې دا زور په افغانستان کې وآزمايي."
راپورونه وايي، چې په دې وروستيو کې په ننګرهار او لغمان ولايتونو کې امنيتي پيښې زياتې شوي.
د امنيتي چارو کتونکی وايي ښايي په خينو سيمو کې د نا امنيو يوعلت د امنيتي مسووليتونو د انتقال مساله هم وي خو دی باور لري چې په يوشمير ختيځو ولايتونو کې وروستی نا امنی د سيمې استخباراتي کړيو رامنځ ته کړي:
"د ايران، پاکستان او سيمې د استخباراتو د لاس وهنې او زموږ د امنيتي ځواکونو د کمزورۍ په نتيجه کې د يوه لوی ناورين د رامنځ ته کيدو شک شته.
په دې کې ډير زيات ګاونډي هيوادونه لاس لري او دا د يوه هيواد لپاره ډير د انديښنې وړ خبره ده.

د (ټايمز) د کال د غوره ...

خپل نوماندان معرفي کړي. سږ کال د ټايمز د نوماندانو په لېست کې د باراک اوباما، محمد مرسي، هېلاري کلېنټن، بشار اسد، فلېکس باوم ګارتنر، جو بايډن، ميشايل بلومبرګ، بوکسيلای، ببل کلېنټن، ګابريل دوګلاس، کيم جونګ اون، بنيامن نتنياهو، مېټ رامني، آنګ سان سوچي تر څنګ د ملالې يوسفزۍ نوم هم راغلی دی. د ټايمز له خوا ټول ۳۸ کسان نومول شوي، چې تر اوسه ملاې يوسفزۍ د ۳۲۴۳۲ رايو په ترلاسه کولو سره تر محمد مرسي او کيم جونګ اون وروسته دريم ځای نيولی دی، خو د منفي رايو له مخې تر ټولو وروستی ځای لري چې له دې امله ښايي تر ټولو زيات چانس ولري.
د ملالې منفي رايې ۱۰۹۳۵ دي، حال دا چې د محمد مرسي منفي رايې ۴۲۹۸۷دي. تر ملالې يوسفزۍ وروسته بارک اوباما د ۲۰۸۰۸ رايو په ترلاسه کولو څلورم مقام لري. د کال غوره شخصيت د ډسمبر په ۱۴ نېټه اعلانېږي، خو د ډسمبر د ۱۲ نېټې د شپې تر دولسو بجو پورې (د امريکې په وخت) تاسو کولای شئ خپلې رايې ور کړئ.

طالبان ۲ انتخاب دارند، يا به...

حضور نيروهای ناتو در افغانستان سال آينده در بروکسل تصميم گيری شود.
کتس تأکيد کرد که فعاليت‌های نيروهای خارجی در افغانستان پس از سال ۲۰۱۴ ميلادی محدود به بخش های آموزش، مشوره و کمک به نيروهای امنيتی افغان خواهد بود.
سخنگوی ايساف درخصوص انتقال تجهيزات و پايگاه‌های نيروهای خارجی به نيروهای امنيتی افغان گفت: برخی از تجهيزات و پايگاه‌های ناتو به نيروهای افغان واگذار می‌شود اما تمامی تجهيزات ناتو به نيروهای افغان واگذار نمی‌شود.
کتس تصريح کرد که تجهيزات نيروهای خارجی شامل انواع مختلف سلاح ها است که در واگذاری آن به نيروهای امنيتی افغان مختاط خواهند بود.
به گفته سخنگوی نيروهای ايساف، نيروهای خارجی در افغانستان ۴۰۰ پايگاه نظامی دارند که تاکنون ۲۵۰ پايگاه نظامی آنان به نيروهای امنيتی افغان واگذار شده است.
وی به توانايی های نيروهای امنيتی افغان اشاره کرد و گفت: تأمين امنيت روز عاشورا، برای نيروهای امنيتی افغان يک دستاورد بزرگ است.
سخنگوی ايساف در خصوص آزادی زندانيان طالبان اظهار داشت: آينده طالبان آزاد شده روشن نيست، اما آنان شانس بازگشت به روند مصالحه ملی را دارند.
به گفته وی، طالبان ۲ انتخاب دارند، يا به روند آشتی ملی روی آورند يا در مبارزه کشته و زخمی شوند.
از آغاز سال جاری تاکنون بيش از ۴۰ مورد حمله سربازان افغان به نيروهای خارجی گزارش شده که بيش از ۶۰ کشته برجای گذاشته است.
برخی کارشناسان افغان معتقدند که بی توجه جامعه جهانی به تجهيز کامل نيروهای افغان، ترس از حملات سربازان افغان به نظاميان خارجی است.
قوماندانان ناتو در افغانستان، بارها تأکيد کرده‌اند که استفاده درست از سلاح‌هايی که در اختيار نظاميان افغان قرار دارد، مهم است.

اوباما تر اوسه په افغانستان ...

کې وساتي. پرون وال ستريټ ژورنال داسې ريپوټ خپور کړی و، چې ښايي امريکا په افغانستان کې تر ۲۰۱۴ کال وروسته د لسو زرو شاوخوا پوځيان وساتي. يوه خبره چې په ګزارشونو کې راغلې هغه دا ده چې که افغانستان امريکايي پوځيانو ته عدلي مصؤنيت ورنه کړي، ښايي اوباما د پوځيانو له ساتلو منصرف شي. باراک اوباما په عراق کې هم پرېکړه کړې وه چې يو شمېر پوځيان هلته وساتي، خو کله چې د عراق حکومت امريکايي پوځيانو ته د عدلي مصؤنيت له ورکولو ډډه وکړه نو اوباما هم ټول پوځيان راوايستل. ولسمشر حامد کرزی هم د امريکې پر حکومات فشار راوړي چې امريکايي پوځيان بايد له عدلي تعقيب څخه مصؤن ونه ګڼل شي.

جرمني:
له ۲۰۱۴ وروسته به د افغانستان پوځي ملاتړ ته دوام ورکړي

تاند، کابل:
د جرمني د بهرنيو چارو وزير ګيدو ويستر ويلې پرون خپل افغان ساري زلمي رسول ته ډاډ ور کړ چې هيواد به يې له ۲۰۱۴ وروسته د افغانستان پوځي ملاتړ ته دوام ور کړي.
د نيوز يوروپ د راپور له مخې ويستر ويلې ښاغلي رسول ته وويل چې هيواد به يې افغانستان په ميدان پرې نږدي.
د جون په مياشت کې ښاغلي ويستر ويلې ويلي و چې له ۲۰۱۴ وروسته، چې د ناټو پوځيان له افغانستانه ووځي، جرمني به په افغانستان کې پوځيان پرې نږدي.
ده د هند په بنګلور کې د دغه هيواد د بهرنيو چارو له پخواني وزير ايس. ايم کريشنا سره په يوه ګډه مرکه کې ويلي و: "په افغانستان او سيمه کې د اوږدمهال ثبات په ګټه به موږ له افغانستان سره ملکي مرستې او د روزنې په برخه کې ملاتړ ته دوام ور کړو."
په داسې حال کې چې د جرمني د بهرنيو چارو وزير د افغانستان د باندنيو چارو وزير ته ډاډ ور کړ چې له ۲۰۱۴ وروسته به هم د افغانستان پوځي ملاتړ جاري ساتي، د افغانستان ولسمشر حامد کرزي نن وويل چې له ۲۰۱۴ وروسته به د افغانستان حالات لا ښه شي.
کرزي له ۲۰۱۴ وروسته د افغانستان د حالاتو د خرابېدو اټکلونه رد کړل او هغه يې په امنيتي موافقه کې له افغانستان څخه د امتيازاتو د ترلاسه کولو لپاره د لوېديځو مطبوعاتو تبليغات وبلل.
افغانستان او امريکا په افغانستان کې له ۲۰۱۴ وروسته د امريکايي پوځيانو د پاتې کېدو د څرنګوالي په باب د موافقې پر شرايطو چينې وهي. افغانستان غواړي چې د ځواکونو د پاتې کېدو په بدل کې د زياتو پوځي او اقتصادي امتيازونو ژمنه ترلاسه کړي خو امريکا ويلي چې د اقتصادي بحران له کبله مخکې تر مخکې د مرستو اندازه نه ټاکي خو اقتصادي شرايطو ته په پام سره به له افغانستان سره مرستې کوي.
دوې ورځې مخکې په افغانستان کې د ناټو او امريکايي پوځيانو عمومي قومندان جنرال جان الن په يوه راپور کې د امريکا حکومت ته سپارښتنه وکړه چې په افغانستان کې له شپږ زره تر پنځلس زرو پورې پوځيان پر پرېږدي.
د وال ستريټ ژورنال ورځپاڼې د راپور له مخې سپينه مانۍ غواړي چې په افغانستان کې يې لس زره پوځيان پاتې شي څو د افغان ځواکونو د روزنې تر څنګ تروريستي ضد عملياتو ته دوام ور کړي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير عبدالله کامه وال
مرستيال مدير عبدالجليل جليل

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
- رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com